# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# خدایٔ پاک یوسف غلام له عزت ورکوی


لیکونکے: Edward Hughes

خیال: M. Maillot; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددګار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.




د یوسف مشر فوطیفار هغه په غلطئ قید کړے وو. یوسف په جیل کښې هم ښهٔ تابعدار او مدد ګار وو. د جیل مشر هم په یوسف باندې یقین وو ځکه چې هغهٔ د قیدیانو ژوند بدل کړو. او قید خانه د هر چا د پاره یو ښکلے ځائ شو. ځکه چې خدائ پاک د یوسف مل وو.




د بادشاه نانبائی او ساقی په
جیل کښې وو. یوه ورځ یوسف
د هغوئ نه پوښتنه وکړه. تاسو
ولې دومره
پرېشانه
یئ.
3
نو هغه دوو سړو ورته ووئیل،
هغوئ ورته ووئیل مونږ. ځکه
پرېشانه یو چې مونږ ته څوک د
زمونږ د خوبونو تعبیر نۀ شی
بیانولے.
خدائ
پاک
کولے
شی.
تاسو ما ته خپل
خوبونه ووایئ.
4
نو یوسف ساقی تا ووئیل چې ستا د خوب دا مطلب دے چې
په درېو ورځو کښې دننه دننه به فرعون په تا مهربانی شی
او تا به آزاد کړی. خو ما یاد ساته او فرعون ته زما د
آزادولو په باره کښې
ووایه. او نانبائی د خوب
تعبیر بد وو. یوسف
هغۀ ته ووئیل چې تۀ به
دې درېو ورځو کښې
مړ شې. او
دواړه خوبونه
رښتیا شول.
5
خو ساقی یوسف تر هغې پورې هېر کړے
وو تر دې چې فرعون یوه ورځ ناڅاپه
راویښ شو او چغې یې کړې چې
ما یو خوب لیدلے
دے. د هغۀ هیڅ یو
هوښیار سړی
نۀ شو کولے چې
د هغۀ د خوب تعبیر یې بیان
کړے وو. نو بیا ساقی ته یوسف
رایاد شو چې په قید کښې وو.
نو هغۀ فرعون ته د یوسف
په باره کښې ووئیل.
6
نو فرعون سمدستی یوسف را وغوښتلو.
یوسف بادشاه ته ووئیل چې ستا خوب د خدائ پاک د
طرف نه یو پېغام دے. په مصر کښې راروان ووۀ کلونه
خوشحالی، او بیا به ورپسې اووۀ کالونه د قحط وی.
7
یوسف فرعون له مشوره ورکړه،
چې په دې اوۀ کالون کښې
خوراک جمع کړی. ګنې ستا خلق
به د قحط په هغه کالونو کښې د
لوږې نه مړۀ شی.
فرعون ووئیل،
خدائ پاک ستا مل
دے، او په مصر
کښې به زما نه پس
تۀ مشر یې.
8


هغه آباد اوؤ کالونه شروع شول، او د هغې نه پس د قحط
اوؤ کالونو کښې د خوراک ډېر زیات کمے وو. بغېر د مصر
نه چې هلته کښې هغوئ ډېر هوښیارتیا په ډېر مقدار کښې
خوراک جمع کړے وو. او د یوسف د لرې وطن
نه، د یعقوب خاندان د لوږې نه مړۀ کېدل.
9


د ټولو ملکو خلق د غلې اخستلو د پاره مصر ته راغلل.
یعقوب هم خپلو زامنو ته ووئیل چې تاسو له هم تلل په کار
دی ګنې مونږ به د لوږې نه
مړۀ شو. او مصر
ته د غلې اخستلو د
پاره د یعقوب زامنو
تیاری شروع کړه.
10


د یعقوب زامن د مصر بادشاه ته ټیټ شول او
سجده یې وکړه. او هغوئ خپل ورور ونۀ
پېژندلو. خو یوسف هغوئ پېژندل. یوسف ته
خپل د ماشوموالی خوب یاد وو. خدائ پاک
هغه په خپلو ورونو کښې اوچت کړے وو.
11


یوسف ډېر هوښیار وو. هغۀ خپلو ورونو سره
په سختئ خبرې وکړې، او هغۀ خپل ورور
شمعون ځان سره ایسار کړو.
او حکم یې وکړو، ...
12


... خوراک یوسئ او کور ته لاړ شئ او خپل
وړوکے ورور ځان سره واپس راولئ. نو
هله به زما یقین وشی چې
تاسو جاسوسان نۀ یئ.
13


د هغۀ ورونو دا سوچ کولو چې کېدے شي
چې خدائ پاک مونږ له د دې سزا راکوی چې
مونږ ډېر کالونه مخکښې
یوسف غلام په طور باندې
خرڅ کړے وو.
14


يعقوب او د هغهٔ زامن پرېشانه وو. چې
زمونږ پيسې يې مونږ له په غنم کښې
واپس کړې. او بادشاه ووئيل چې مونږ
به بن آمين ځان سره بوځو.
15


يعقوب به بن آمين هغوئ سره تلو ته
پرې نهٔ ږدی. خو ډېر زر هغوئ سره
خوراک ختم شو. او د هغهٔ ورونو له
واپس د خوراک د پاره مصر ته تلل وو.
او بن آمين هم هغوئ سره لاړو.
16


کله چې يوسف بن آمين وليدو نو هغهٔ خپلو نوکرانو ته د يو
لوئ دعوت د پاره ووئيل. د هغهٔ ورونو له يې دعوت
وکړو. يوسف ووئيل، آيا ستاسو پلار ژوندے دے، او هغه
ښهٔ دے؟ کېدے شی چې يوسف دا سوچ کولو چې هغه
څنګه خپل خاندان را يو ځائ کړی.
17


يوسف ته دا هم پته وه چې
آيا واقعی د هغهٔ ورونو چې
ډېر کالونه مخکښې کومه
ګنه کړې وه په هغې
پښېمانه دی او کهٔ نهٔ دی.
د دې هر څهٔ نه وروسته
يوسف په هغوئ باندې غلا
الزام ولګولو او هغوئ ته
يې ووئيل چې زهٔ به تاسو
له سزا درکوم، زهٔ به بن
آمين خپل غلام جوړوم.
18


يهوده يوسف ته ډېر
منتنونه وکړل. اے مشره د
بن آمين په ځائ باندې ما
مړ کړه. يوسف ته پته وه
چې يهوده چا چې د يوسف
د خرڅولو مشوره ورکړې
وه. اوس په مکمل طور
پاندې بدل شوے دے.
19


اوس يوسف نور زيات د خپل خاندان د
پاره د مينې د پټولو قابل نهٔ وو. يوسف
ټول مصر باهر
وليږل. او بيا
هغهٔ په ژړه شو.
20




21




22




23

خدائ پاک يوسف غلام له عزت ورکوی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

پېدايښت ۳۹ ـ ۴۵

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښى ـ"

زبور 130:119

24

# ختم شو

8 60

25

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډېر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډېره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زۀ ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲

26